# (The Prerequisites of Historical Novel writing and the Responsibilities of the Novelist)

# د تاريخي ناول غوښتنې اودناول نګار ذمه وارۍ

Mr. Muhammad Ishaq Khawreen[*]

ABSTRACT:

The Historical Novel, owing to its deep relation and affinity with history, is having different position, value and importance among all kinds of novel, and hence it is considered the most difficult of all kinds of novel. In this kind of novel, the past events of history are revitalized along with presenting the past life in its social dynamics. In other types of novel, a novelist does not face as much responsibilities as he has to face in a historical novel. Dealing with historical novel, a novelist at the same time, plays the role of a historian, researcher and as a novelist. Beyond being a novel, as the history is dealt in this sort of novel, the novelist has to perform the role of a re searcher, and required by history. Such types of novels demand research on the part of the novelist. Taking the responsibility of a historical novelist, the novelist pays great attention to the minute details and demands. If the demands are hold in view and the novelist fulfills his responsibilities, a perfect historical novel will come into being. Meeting the demands of a historical novel, study and observation of history, arranging materials and selecting topic and era are also included. Likewise, historical realities in their true form, formation of access to authentic resources, the picture of the social life of the age and many other aspects include in sketching a historical novel. In this research article, we try to present a clear image of the demands of writing a historical novel, and the responsibilities of the novelist of such types of novels.

**Key words**: historical-fiction-Prerequisites-historical novel-Responsibilities-of Novelist.

تاريخي ناول دتاريخ سره دژورتعلق اوتړون لرلو په وجه د ناول په ټولو قسمونو کښې يوجدا مقام ،ارزښت او اهميت لري چې پکښې نه يوائې د تاريخ ديوتېرشوي دور د بيا راژوندي

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar

کولو او وړاندې کولو هڅه کېږي بلکې د هغه دور د ټولنيز ژوند هر اړخيز تصويرونه مو هم مخې ته راوړي په تاريخي ناول کښې ناول نګار په يو وخت د مورخ، محقق او ناول نګار حېثيت خپلوي ځکه چې هر څو که تاريخي ناول په بنيادي توګه ناول وي ولې دا چې په دغه ډول ناول کښې تاريخ وړاندې کېږي او د تاريخ دپاره تحقيق کول يو لاژمي امر وي په دې وجه تاريخي ناول نګار په يووخت د ناول نګار، مورخ او محقق حېثيت غوره کوي او په همدې وجه تاريخي ناول خپلې غوښتنې پېدا کوي چې د ترسره کولو دپاره ئې ناول نګارته يولړ ذمه وارۍ وړپه غاړه کېږي چې د خپلو دغو ذمه واريو د ترسره کولودپاره تاريخي ناول نګار ته دا لاژمي کېږي چې هغه د تاريخي ناول غوښتنو ته ژوره پاملرنه وکړي ځکه هرکله چې په يو تاريخي ناول کښې د تاريخي ناول غوښتنې په پام کښې ونيول شي او ناول نګارپه ښه توګه خپلې ذمه وارۍ عملي کړي نو دا د يو معياري تاريخي ناول په پنځولو کښې اهم کردار ادا کوي په دې مقاله کښې مونږ هڅه کوو چې د تاريخي ناول دغوښتنو اود تاريخي ناول نګار د ذمه واريو په اړه يو واضح تصور مخې ته راوړو.

داچې زمونږ بنيادي موضوع د تاريخي ناول غوښتنې او دتاريخي ناول نګار ذمه وارۍ په ګوته کول او مخې ته راوړل دي په دې وجه د تاريخي ناول د نورو اړوندو بحثونود وړاندې کولو نه ډډه کوو او خپله موضوع په ترتيب سره په لاندېني ډول روښانه کوو-

**د تاريخي ناول غوښتنې:**

د تاريخي ناول دغوښتنو نه مراد هغه عمل او کړنې دي کومې چې د تاريخي ناول د ليکلو نه وړاندې او د تاريخي ناول د ليکلو پر وخت ناول نګار بايد په نظر کښې ونيسي اوعملي ئې کړي- د تاريخي ناول په غوښتنو کښې د تاريخ سره مينه او علاقه لرل، دتاريخ مطالعه اومشاهده کول، د دور، زماني او موضوع انتخاب، اود موادو راټولول او ترتيبول شامل دي چې دلته د تاريخي ناول پورتنۍ غوښتنې په تفصيل سره په لاندېني ډول مخې ته راوړو-

**(۱):د تاريخ سره مينه او علاقه لرل (د تاريخ مطالعه او مشاهده کول):**

د تاريخي ناول ليکلودپاره ناول نګارته ضروري دي چې د تاريخ سره مينه او علاقه ولري ځکه چې دتاريخي ناول دپاره دتاريخ نه اګاهي لرل دومره ضروري دي څومره چې ديوناول نګار دپاره د ناول د فن سره اشنائي ضروري ده که چېرې يوڅوک د ناول د فن نه خبر

نه وي هغه هېڅکله يو معياري ناول تخليق کولے نه شي دغه ډول د تاريخي ناول دپاره تر ټولو وړاندې بايد ناول نګار د تاريخ سره مينه اود تاريخ د مطالعې شوق ولري ځکه چې د تاريخي ناول دپاره د تاريخ مطالعه بې حده ضروري ده چې ددې نه بغېر ديومعياري تاريخي ناول ليکل په هېڅ توګه ممکن نه دي د تاريخ سره مينه اوعلاقه لرل او د تاريخ مطالعه او مشاهده کول د تاريخي ناول لومړنۍ بنيادي غوښتنه ده- د تاريخي ناول دپاره د تاريخ مطالعه کول نه يواځې دا چې ناول نګار ته مستند معلومات ورکوي بلکې ترځنګ ئې د ناول پېښې د تاريخ سره په ټکر کېښې له راتللو نه ژغورل کېږي يعنې دتاريخ مطالعه تاريخي ناول نګارد تېروتنونه ساتي اوناول ته ئي دتاريخي حېثيت له مخې اعتبار ور بخښې-د تاريخ مطالعه او مشاهده کول نه يواځې دا چې د تاريخي ناول يو بنيادي غوښتنه ده بلکې همدامطالعه او مشاهده ناول نګار سره مرسته کوي تر څو د تاريخ د خورو ورو پاڼو څخه مستند معلومات تر لاسه کړي- د تاريخ د مطالعې په مرسته ناول نګار د تاريخي پېښو نه خبرېږي د دې پېښو په اړه کره معلومات تر لاسه کوي او همدا ډول په زماني لحاظ د پېښو مشاهده کول او په ناول کښې وړاندې کول د تاريخ دمطالعې اومشاهدې په ذريعه ممکن کېږي-دغه ډول دتاريخ دمطالعې په برکت دهغې زمانې د دود دستور، رسم وروايات او ټولنيز ماحول په اړه پوهه او معلومات تر لاسه کېږي، د تاريخ د مطالعې په مرسته ناول نګاردکره اونا کره پېښو په اړه معلومات تر لاسه کوي ځکه دا ضروري نه دي چې د تاريخ هر کتاب دې کره پېښې ولري دتاريخ د مشاهدې اومطالعې په مرسته ناول نګارددې قابل کېږي چې مستندو تاريخونو او تاريخي پېښو ته لاس رسے پېدا کړي- د تاريخي ناول دپاره دتاريخ د مطالعې په اړه ډاکټر رشيد احمد ګوريجه ليکي:

*"تاریخی ناول لکھتے وقت موضوع کے مطابق مطالعہ بھی ضروری ہے اور مطالعہ کر کے صحیح واقعات سے صحیح نتائج پر پہنچنا بھی ضروری ہے تاکہ ناولوں میں بیان کردہ واقعات معتبر تواریخ سے متصادم نہ ہوں[1] ۔"*

"دتاريخي ناول د ليکلوپروخت دموضوع اړوند مطالعه هم ضروري ده اودکره واقعاتونه کره نتيجې ترلاسه کول هم لازمي دي ترڅوپه ناولونو کښې بيانېدونکې پېښې د معتبرو تاريخونو سره په ټکر کښې واقع نه شي-"

د تاريخي ناول دپاره د تاريخ مطالعه نه يواځې دا چې ضروري ده بلکې د دې نه بغېر يو تاريخي ناول تخليق کول يو ناممکن عمل دے- د تاريخي ناول دپاره د کره تاريخونو

لوستل دناول نګار دپاره د يو لازمي امر درجه لري په دې وجه وئيلے شو چې دتاريخ سره علاقه لرل اودتاريخ مطالعه اومشاهده كول دتاريخي ناول لومړنۍ غوښتنې دي- دتاريخي ناول دپاره دتاريخ د مطالعې د ضرورت او اهميت په اړه عظيم الشان صديقي ليكي:

"تاریخی ناول نگاری کا فن سب سے اہم اور مشکل کام ہے۔اس کے لئے نہ صرف وسیع مطالعہ کے ضرورت ہے۔بلکہ یہ بھی ضروری ہے کہ تاریخی ناول نگار اپنے ماحول سے کسی نہ کسی طرح کوئی تعلق ضرور رکھتا ہو تاکہ اکتسابی علم کے علاوہ ذاتی مشاہدے اور تجربے سے بھی کام لے سکے[2]۔"

"د تاريخي ناول نګارۍ فن ترټولواهم او مشكل كار دي ددې دپاره نه يواځې پراخه مطالعه ضروري ده بلكې دتاريخي ناول نګار دپاره د خپل ماحول نه هم اګاهي لرل لازمي دي ترڅود اكتسابي علم تر څنګ د ذاتي مشاهدې او تجربې نه هم ګټه پورته كړي-"

ډاكټر سهيل احمد خان او محمد سليم الرحمان د معياري تاريخي ناول دپاره د معلوماتو ترلاسه كول يو ضروري امر ګڼي دوي ليكي:

"اچھے تاریخی ناولوں میں ناول نگار کوشش کرتے ہیں کہ جس دور یا جن کرداروں اور واقعات کا ذکر مقصود ہے ان کے بارے میں زیادہ سے زیادہ معلومات حاصل کرلی جائے تاکہ قارئین کو محسوس ہو کہ گزرے دنوں کا کوئی مرقع نظر کے سامنے آگیا ہے اور ناول کی تعمیر ٹھوس بنیادوں پر اٹھائی گئی ہے، محض ناول نگار کے تخیل کی جولانی کا نتیجہ نہیں[3]۔"

"په غوره تاريخي ناولونوكښي ناول نګار هڅه كوي چې د كوم دوريا كردارونو او واقعاتو وړاندې كول هدف وي د هغوپه اړه د ډېرو نه ډېر معلومات ترلاسه كړي تر څولوستونكي محسوس كړي چې د تېردورهنداره په لاس ورغلې ده او د ناول كورپه كلكوبنيادونوولاړ دي يواځې دناول نګار د تخيل رنګيني پكښې شامله نه ده-"

دتاريخي ناول دپاره دمطالعې دضرورت او اهميت نه په هېڅ صورت انكار كېدلے نه شي ځكه خودتاريخ مطالعه اومشاهده كول دتاريخي ناول اولنۍ اوبنيادي غوښتنه ده چې دغه غوښتنه دتاريخ دمطالعې اود نورو مختلفو تاريخي دستاويزونو د مطالعې په شكل كښې ترسره كېدی شي- په دې اړه الفرډ ټريسبډر شيپرډ خپل خيالات داسې څرګندوي:

"The historical novelist must study books on costume, on coinage, on the contemporary history of other states; he must read contemporary letters, diaries, dispatches, even legal documents and medical works. Nothing dealing with his period and locality should be foreign to him. He may have to go to works on

heraldry, on botany, on etymology, on arboriculture, on agriculture, picture galleries and museums, cathedrals and churches and castles, all yield their spoils." [4]

"تاريخي ناول ليکونکی بايد دجامو، سکو، دنورو هېوادونو د معاصر تاريخ په اړه کتابونه مطالعه کړي؛ هغه بايد معاصر ليکونه، ډائرياني، حتی قانوني اسناداوطبي اثارولولي.هغه بايد ددستکارۍ، نباتاتو، ايتيمولوژي، دلرغونواثارو، کرنې، دانځورګالريواوموزيمونو، کليساګانو اوکلاګانو په اړه مطالعه وکړي، ځکه چې دا ټول تاريخي ناول ته ژوند وربخښي-"

دتاريخي ناول دپاره مطالعه په دې وجه هم ضروري ده چې ناول نګار په تاريخي ناول کښې تاريخي ماحول اودهغه دوردټولنيزژوند تصويرونه د تاريخ د مطالعې نه بغېر وړاندې کولے نه شي- د تاريخي ناول د دغه بنيادي ضرورت د تر سره کولو دپاره د تاريخ مطالعه يواځينۍ لار ده- د تاريخي ناول دپاره د مطالعې په هکله ډاکټر رشيد احمد ګوريجه ليکي:

*"تاریخی ناول نگار کو صرف کسی عہد، کسی جنگ، یا کسی سپہ سالار ہی کو الفاظ کا جامہ پہنا کر زندہ پیکر میں نہیں ڈالنا ہوتا بلکہ اس عہد کی معاشرت کو بھی زندگی بخشنا ہوتی ہے جس عہد سے تاریخی واقعہ یا کردار تعلق رکھتے ہیں۔۔۔ناول نگار کو اس عہد کی معاشرت اور تہذیبی اقدار کا مطالعہ بھی کرنا ہوگا ورنہ اس کے ناول میں ایسا نقص پیدا ہو جائیگا جو اس کے سارے حسن کو غارت کر کے رکھ دے گا۔"* [5]

"تاريخي ناول نګار ته يواځې يو دور، يوجنګ يايوسپه سالار دلفظونو په جامه کښې وړاندې کول نه وي بلکې د هغه دور د کوم نه چې پېښه يا کردار را اخستل کښې دهغه دور دټولنيز ژوندمخې ته راوړل ورته هم ضروري وي ناول نګارته دهغه دوردټولنيزژونداوتهذيبي قدرونو مطالعه کول هم لازمي وي او که داسې نه کوي نوناول به ئې د يوداسې عيب نه برخمن شي چې ټوله ښکلابه ئې له مېنځه يوسي-"

(۲):د دور او زماني انتخاب:

لکه څنګه چې انساني تاريخ مختلف دورونه او برخې لري دغه ډول د هرې جغرافيې، قام او ملت تاريخ هم پر مختلفو دورونو وېشل شوے وي- د تاريخي ناول دپاره د تاريخ د يو خاص دور او زماني انتخاب کول د تاريخي ناول دويمه اساسي غوښتنه ده چې بايد ناول نګار ورته ځانګړې پاملرنه وکړي ځکه چې د تاريخ په هر دور او هره زمانه کښې داسې ډېرې پېښې او واقعات خوندي وي چې د ناول په بڼه وړاندې کېدلے شي په دې وجه ناول نګار ته د خپل ناول دپاره د يو خاص دور د پېښو انتخابول يو ضروري امر ګرځي که چېرته يو ناول

نګار د خپل ناول دپاره د یو دور انتخاب و نه کړي هغه به د ناول لیکلو پر وخت د ډېرو ستونزو سره مخ شي چې د ناول د فني او تاریخي معیار او حېثیت د کمزوري کېدو سبب هم ګرځېدلے شي البته که هغه د یو خاص دور پېښې را واخلي نو د ناول د فني ارزښتونو په نظر کښې نیولو سره به ئې ورته وړاندې کول اسان وي، د یو خاص دور سره تړلې پېښې نه یوائې دا چې ناول ته یو مضبوط او مربوط پلاټ وربخښي بلکې د ناول په فني او تاریخي ارزښت بشپړولو کښې هم پوره مرسته کولے شي- د تاریخي ناول دپاره د دور او زمانې د انتخاب د ارزښت او اهمیت په اړه ډاکټر رشید احمد ګوریجه د خپلو خیالاتو څرګندوونه په دې ډول کوي چې:

"*تاریخی ناول نگار اگر موضوع اور عہد کا انتخاب کرتے ہوئے احتیاط نہ برتیں، تو اپنے قارئین کے دلچسپی اور ہمدردیوں سے محروم ہو جائیں*[6]*۔*"

"ناول نګار که د موضوع اودورپه انتخاب کښې احتیاط ونه کړي نو د خپلو لوستونکو د دلچسپۍ او همدردۍ نه به بې برخې شي-"

دا چې د دور او زمانې انتخاب باید د کوم معیار له مخې تر سره شي؟ ناول نګار باید کوم اړخونه په پام کښې ونیسي؟ تر څو یو غوره معیاري تاریخي ناول وپنځوي زما په خیال ناول نګار باید دلاندینو نکاتو په پام کښې نیولو سره د دور او زمانې د انتخاب فیصله وکړي:

۱: هغه دور چې ناول نګار ور سره داخلي اوجذباتي تړون ولري-

۲: هغه دور چې د ناول دپاره پکښې پربمانه پېښې وجود ولري-

۳: هغه دور چې د ملي روحیې په غښتلي کولو کښې اهم کردار لوبولے شي-

۴: هغه دور چې د تهذیبي او کلتوري توکیو له مخې په بشپړ ډول غني وي-

۵: هغه دور چې د یو ملت په تاریخ کښې د بل هر دور نه ډېر زیات ارزښت لري-

۶: هغه دور چې د ناول نګارپه دورکې ئې لوستنه اوترې خبرېدل ضروري وي-

۷: هغه دور چې پېښې ئې د ناول نګار په دور کښې خورا ارزښت لري-

۸: هغه دور چې مشهور او اهم تاریخي شخصیات پکښې تېر شوي وي-

۹: هغه دور چې دملت سره په موجوده دورکې ملت ته د وړپېښو مختلفو ستونزو اوننګوونو په مقابل کې داغېزمنوفیصلوپه کولو کښې مناسبه مرسته کولے شي-

۱۰: هغه دور چې ځينې برخې ئې تحريف شوي او يا د تاريخ برخه گرځېدلي نه وي خو په دې شرط چې په ناول کښې په خپل اصلي حالت کښې وړاندې شي۔

د تاريخي ناول دپاره د دور او زمانې د انتخاب په اړه د مختلفو نکاتو د وړاندې کولو نه وروسته غواړو چې د مختلفو نقادانو د نظرونو په رڼا کښې د تاريخي ناول دپاره د دور او زمانې د انتخاب پيمانه او معيار وړاندې کړو ځکه چې د تاريخي ناول د ناول نگار نه په هر قدم د احتياط غوښتنه کوي چې د زمانې او دور په انتخاب کښې دقت کول هم پکښې شامل دي د تاريخي ناول د زمانې او دور د انتخاب په هکله ډاکټر ممتاز منگلوري داسې ليکي:

"عہد کے انتخاب کے بارے میں مختلف فنکاروں کے یہاں دو طرح کے رجحان پائے جاتے ہیں ایک رجحان تو یہ ہے کہ ناول کے موضوعات کیلئے اس عہد کے واقعات زیادہ موزوں ہوتے ہیں جو تہذیبی اور تمدني سر گرمیوں کے اعتبار سے زیادہ پر شکوہ اور معروف ہوں ایسا عہد چونکہ فنون لطیفہ اور دیگر مجلس زندگی کے مظاہر کي رنگینوں سے بذات خود اپنے اندر اتنی جاذبیت اور کشش رکھتا ہے کہ اس کے حقیقی تصویریں بھی قاری کو محظوظ کرنے کیلئے کافی ہوتی ہیں اور اس طرح فنکار کو تاریخی حقائق میں کسی قسم کے تصرف یا ان سے انحراف کی ضرورت محسوس نہیں ہوتی ہیں اور دوسرا رجحان یہ ہے کہ ایسے عہد کا انتخاب کیا جائے جس میں تاریخ نے جا بجا خلاء چھوڑے ہوئے ہوں اور فنکار اس کو تخیل کے رنگوں سے اس طرح پر کرے کہ وہ رنگ انسانی زندگی سے بھی مطابقت رکھتے ہوں اور قاری کیلئے بھی جاذب نظر ہوں[7]۔"

"د دور د غوره کولو په برخه کښې د د فنکارانو په نزد دوه رجحانات موجوددي يو دا چې د ناول د موضوعاتودپاره د هغه دور پېښې زياتې مناسبې وي چې د تهذيبي او تمدني فعاليتونوله مخې زياتې مشهورې اوغني وي داسې دور چې له هراړخه غنايت لري يو طبيعي زړه راښکون لري او د لوستونکي د جمالياتي ذوق دپاره کافي سامان لري په دې وجه ناول نگار ته په تاريخي حقيقتونو کښې د لاسوهنې ضرورت نه پېښېږي اودويم رجحان دادي چې يوداسې دور بايد غوره کړل شي چې پکښې ځاي په ځاي خلاوې محسوسېږي چې دغه خلاوې ناول نگار دخپل تخيل په مرسته په يو داسې هنرډ کې کړي چې هم د انساني ژوند سره سمون ولري او هم د لوستونکي تنده ورماته کړي-"

دغه ډول د تاريخي ناول دپاره د يوې زمانې په انتخاب کښې بايد پوره احتياط او غور و فکر تر سره شي ځکه چې څومره يوه زمانه له تاريخي لحاظه ارزښتمنه وي هومره د ناول د

مقبولیت سبب ګرځېدلے شي- یو تاریخي ناول نګار باید د کوم معیار له مخې د تاریخي شخصیت دپاره د دور انتخاب وکړي په دې اړه ډاکټر رشید احمد ګوریجه داسې لیکي:

"بعض ناول نگار ایسے حکمران کے عہد کو اپنے ناول کا موضوع بناتے ہیں جن کا عہد خوشحال اور عیش و مسرت کا دور تھا۔ پوری قوم عیش و نشاط میں ڈوبی ہوئی تھی۔ ناول نگار دربار، محل سرا اور محلات کے نقشے دکھا کر قارئین کو محظوظ کرتا ہے اور مرقع نگاری سے اس پر تعیش عہد کو زندہ کرتا ہے[8]۔"

"ځینې ناول نګاران دیو داسې پاچا دور دخپل ناول موضوع ګرځوي چې دورئې خوشحال او ښېرازه وي چې ټول قوم پکښې خوشحاله او اسوده وي ناول نګار د دربار، محلونو او نورونقشو په ښودلو سره لوستونکي ته تسکین وربخښي او په دې ډول هغه دور ته دوباره ژوند ورکوي-"

د تاریخي ناول دپاره د دور او زمانې د انتخاب په برخه کښې یو بل اړخ ته هم باید ناول نګار پوره پاملرنه وکړي او هغه دا چې د تاریخ په اوږدو کښې کله کله د یو دور ځینې تاریخي پېښې یا خو له پامه غورځول شوي وي یا په کره ډول د تاریخ برخه ګرځېدلي نه وي او یا د پوره وضاحت سره بیان شوي نه وي د یو دور دغسې یوه برخه هم د تاریخي ناول دپاره انتخابېدلے شي دغسې یو دور د تاریخي ناول دپاره د انتخابولو په اړه علي عباس حسېني لیکي:

"ناول کی جگہ وہاں ہوتی ہے جہاں تاریخ کے صفحے سادے اور خاموش ہوں۔ امتداد زمانہ کے وجہ سے جو واقعات صاف نہیں دکھائی دیتے، یا جو اشخاص دھندلی پڑ گئی ہیں، انہیں قصے اور فسانے واضح کر کے دکھا سکتے ہیں[9]۔"

"دناول ځاي هلته وي چېرته چې دتاریخي پاڼې سپینې اوخاموشه وي دزمانې په اوږدو کښې چې کومې پېښې رڼې نه وي او یاځینې شخصیتونه په زماني ګردونوکښې پټ شوي وي هغه د قیصو او افسانوپه مرسته مخې ته راوړل کېدي شي-"

دتاریخي ناول دپاره ددوراوزمانې دانتخاب په اړه الفرډ شیپرډ لیکي:

"The choice of period very long ago makes the work of a novelist easier in some respects, as where knowledge is incomplete or inexact; he has more latitude and wider scope for the free play of imagination. But there is the danger of dullness of lack of verisimilitude, and, almost always, of being found out ultimately when human knowledge is more complete." [10]

د یوپخواني دورغوره کول په ځینو برخو کښېد ناول نګارکاراسانه کوي، ځکه چې چېرې

پوهه نیمګړي یا ناسمه وي، هغه دتخیل د ازادي لوبې لپاره ډېر عرض او پراخه مېدان لري. مګردسستې خطر شتون لري، د حقیقت نشتوالی، اوتقریباً تل په پای کښې دموندلو خطر شتون لري کله چې د انسان پوهه بشپړه وي.

د تاریخي ناول دپاره د دور او زمانې په انتخاب کښې دوه اړخونه په نظر کښې نیول ضروري دي یوداچې دیوداسې دور انتخاب وشي چې هغه د تهذیب، کلتور، سیاست، اواقتصادله رویه ډېرغني وي اویایوداسې دورچې په هغې کې یوڅه خلا محسوسېږي چې ناول نګار ئې د خپل تخیل په مرسته د تاریخي ناول په شکل کښې پوره کولے شي- د تاریخي ناول دپاره د دور او زمانې په انتخاب کښې پوره دقت پکار دے ناول باید د یو داسې دور انتخاب وکړي چې هم د تاریخي ناول دپاره پرېمانه مواد ولري او هم ئې د ناول نګار په دور کښې د بیا وړاندې کولو ضرورت محسوسېږي- تاریخ یوه خوره جغرافیه لري ناول نګار ته پکار دي چې هغه د دغې خورې جغرافیې یوه داسې مخصوصه برخه وټاکي چې هم ورسره ذاتي دلچسپي ولري، هم د ناول دپاره موزونه او مناسبه وي او هم پکښې د ناول دپاره ضروري مواد په اسانۍ سره ترلاسه شي، یادیوداسې دورانتخاب وکړي چې یوداسې مشهور تاریخي شخصیت ولري چې ورسره تړلې تاریخي پېښې د ناول دپاره مواد برابرولے شي-

(۳):مواد راټولول او ترتیبول:

د تاریخي ناول دپاره تاریخي مواد پیدا کول او د هغو ترتیبول د تاریخي ناول دریمه بنیادي غوښتنه ده- هر هغه څه چې ناول نګار ئې په خپل ناول کښې بیانول غواړي باید د تاریخ د مطالعې نه تر لاسه کړي هر کله چې ناول نګار د خپل ناول دپاره د ضروري موادو په تر لاسه کولو کښې بریالے شي باید هغه راټول کړي وئې سنجوي، کره او کوټه ئې معلوم کړي ځکه چې ضروري نه ده چې هر تاریخ دې بې طرفه او پر صداقت ولاړ وي، ناول نګار باید د مستندو تاریخونو پر معلوماتو تکیه وکړي او بیا دغو معلوماتو ته زماني ترتیب ورکړي ځکه چې په تاریخي ناول کښې بې ترتیبه معلومات وړاندې کول یو عیب ګڼلے شي- کله چې ناول نګار د خپل ناول دپاره مواد را ټولوي او ترتیبوي په دغه وخت کښې ناول نګار د هغه دور د ټولنیز ژوند په اړه معلومات هم تر لاسه کوي چې دا ټول د یو معیاري تاریخي ناول په رغولو کښې اهم کردار ادا کوي- دغه شان د موادو د راټولولو او ترتیبولو په وخت کښې ناول

نګار ته دا هم واضحه کېږي چې کوم معلومات صداقت لري او کوم ئې نه لري په دې اساس ناول نګار ته پکار دي چې دمستندوتاريخونومعلومات معيار وګرځوي تر څو په ټول صداقت تاريخي معلومات د ناول په بڼه وړاندې کړي، د معلوماتو د راټولولو پر وخت د هغه دور ټولنيز ژوند، دود دستور، او ژوند ژواک ته پوره پاملرنه پکار ده ځکه چې د يو پخواني دور په اړه بايد د هغه دور د معروضيت په رڼا کښې معلومات وړاندې شي د تاريخي ناول دپاره د مطالعې نه وروسته په دې هکله ډاکټر رشيد احمد ګوريجه د خپلو خيالاتو اظهار داسې کوي:

"تاریخی ناول نگار کو جاننا چاہیے کہ وہ جس عہد کا احیا کر رہا ہے وہ دور تہذیبی لحاظ سے کتنا ترقی یافتہ تھا۔اس کی نظام حکومت، فلاحی ادارے کیسے تھے۔لوگوں کی عمومی سوچ کیا تھی۔۔۔اسے علم ہونا چاہیے کہ قدیم دور میں زخموں کا علاج کیسے کیا جاتا تھا۔ سیاسی نظام کیسا تھا۔ڈاک کا انتظام کیسا تھا۔اس ملک کی جغرافیائی حدود کیا تھیں۔کیونکہ امتداد زمانہ کے ساتھ ساتھ ملکوں کے جغرافیائی نقشے میں بہت حد تک تبدیلی ہوئی ہے۔ بعض جغرافیائی حدود سمٹی ہیں، بعض پھیلی ہیں۔ بعض نئے ملک بھی وجود میں آئے ہیں۔اس لیے آج کے جغرافیائی حدود کو آج سے ہزار بارہ سو سال پہلے کی جغرافیائی حدود پر قیاس کرنا غلط ہے[11]"

"تاريخي ناول نګاربايد په دې وپوهېږي چې هغه کوم دور بيا راژوندي کول غواړي هغه دور د تهذيب له مخې څومره وده کړې وه د هغه حکومتي نظام او ادارې څنګه وې داولس عام سوچ ئې څه و هغه بايد وپوهېږي چې په هغه دور کښې د زخمونوعلاج څنګه کېدلو،سياسي نظام څنګه و د پوستې (ډاکخانې) نظام ئې څنګه و، د هغه هېواد جغرافيايي حدود څه وو ځکه چې د وخت په تېرېدو د ملکونوجغرافيې تر ډېره حده بدلې شوې دي ځينې جغرافيې وړوکې شوي او ځينې خورې شوي دي ځينې نوي ملکونه رامېنځ ته شوي دي په دې وجه نني جغرافيايي حدود د نن په زر دولس سوه کاله وړاندې جغرافيايي حدودوقياس کول غلط دي-"

د تاريخي ناول دپاره د موادو راپېداکولو دپاره د تاريخ مطالعه يو لازمي امرګرځي ځکه چې په تاريخي ناول کښې تاريخي پېښې بيانېږي او د دغو پېښو په اړه معلومات د تاريخ، ارشيفونو او ميوزيمونو نه تر لاسه کېږي د تاريخي ناول دپاره د موادو د پېدا کولو په اړه ډاکټر ممتاز منګلوري خپل خيالات داسې څرګندوي:

"تاریخی ناول کے لیے کسی عہد کا انتخاب کرنے کے بعد ایک اور اہم مسئلہ اس عہد یا ناول کے موضوع سے متعلق معلومات فراہم کرنے کا کام ہے۔ قصہ خواہ کسی انداز یا اسلوب کا ہو قصہ گوئی کے سفر کا اول مرحلہ یہ ہے کہ قصہ گو کو اپنے موضوع کے تفصیلات و جزئیات کا پورہ علم ہو اور وہ زندگی کے جس پہلو کو پیش کرنا چاہتا ہے یا جس پس منظر کو اپنے مقصد کے اظہار کے لیے ضروری سمجھتا ہے اس سے پوری طرح واقف ہو، لیکن ان کا علم عموماً ذاتي علم ہوتا ہے۔ شخصي تجربے اور مشاهدے پر مبنی علم۔ جب کہ تاریخی ناول نگار کا مطلوبہ مواد اس کے مشاہدے اور ذاتی تجربے کے حدود سے باہر ہوتا ہے، اسے لازمی طور پر اپنی کہانی کے لیے ضروری معلومات حاصل کرنے کی خاطر ایک ایسی سرزمین پر قدم رکھنا پڑتا ہے جو اس کے نظر سے او جھل اور اس کے تجربے سے باہر ہے۔ اسے زندگی کا وہ عہد چھوڑ کر جس میں وہ خود زندگی بسر کر رہا ہے ایک ایسے عہد میں داخل ہونا پڑتا ہے جس کے زمین و آسمان اس کے لیے بالکل اجنبی ہیں۔ زمان و مکان کی کئی سرحدوں کو عبور کر کے تاریکیوں کے دبیز پردوں میں لپٹے ہوئے مقام کو مسکن بنانا پڑتا ہے[12]۔"

"د تاریخي ناول دپاره دیودوردغوره کولونه وروسته یوه اهمه ستونزه د هغه دور یادناول د موضوع اړوند د معلوماتوترلاسه کول دي قیصه که د هر انداز اواسلوب وي د قیصه کوونکي دسفرلومړی مرحله داده چې هغه ته د خپلې قیصې جزیات معلوم او څرګند وي او هغه چې د ژوند کوم اړخ وړاندې کوي یا چې کوم پس منظر د خپل مقصد د واضحه کولودپاره ضروري ګڼي باید د هغې نه خبر وي ولې د هغوی علم عموماً ذاتي وي چې په شخصي تجربې او مشاهدې ولاړ وي ولې دتاریخي ناول نګار دپاره ضروري مواد د هغه د مشاهدې او ذاتي تجربې د دائرې نه بهر وي هغه ته د خپلې قیصې دپاره په لازمي توګه په یوه داسې زمکه قدم ایښودل وي چې د هغه د نظرنه پناه او د هغه تجربې نه بهر وي هغه ته دخپل ژوندد دور نه هغه دورته داخلېدل وي چې د هغه دپاره ئې زمکه او اسمان دواړه نااشنا وي او په دې ډول هغه ته دزمان اومکان دسرحدونونه په تېرېدوسره دتیاروپه پردوکښې نغښتي مقام دخپل استوګنځي جوړول وي-"

(۴):د موضوع انتخاب:

د تاریخي ناول دپاره د موضوع انتخاب هم یو ضروري امر دے یو ناول نګار باید د تاریخ نه د تر لاسه شویو معلوماتو له مخې د خپل ناول موضوع وټاکي ځکه چې یوې ځانګړې موضوع ته په ناول کښې ځاے ورکول د ناول د ښکلا او د لوستونکي د دلچسپۍ ذریعه ګرځي که مونږ وګورو د هر دور په تاریخ کښې په مجموعي توګه دوه ډوله واقعات موجود

وي چې يو ډول ئې اجتماعي بڼه لري او بل ډول ئې ذاتي يا د يو مشخص شخص پورې تړلي وي ناول نګار ته پکار دي چې د موضوع په ټاکلو کښې پوره غور وکړي تر څو يوه داسې موضوع غوره کړي چې هم پرې کافي مواد تر لاسه کولې شي او هم له تاريخي پلوه ډېر ارزښت ولري- د تاريخي ناول د موضوع په انتخاب کښې پوره غور پکار دے ځکه چې که څه هم ځيني پېښې تاريخي حېثيت لري خو ولې ممکن داسې اړخونه هم ولري چې هغه عقيدوي، مذهبي، نسلي، قامي او يا يو لړ نور احساسات را وپاروي په دې وجه ناول نګار ته پکار دي چې يوه داسې موضوع غوره کړي چې هغه د دغه ډول احساساتو را پاروونکې نه وي او په ټوله کښې لوستونکي انسانيت، مينې او عاطفې ته را وبولي چې په دې وجه د پورته نورو ضرورتونو تر څنګ بايد ناول نګار د تاريخي ناول دا ضرورت هم په نظر کښې ونيسي- په دې اړه ډاکټر رشيد احمد ګوريجه ليکي:

*"تاریخی ناول نگار کو کہانی کے مطابق جزیات منتخب کرتے وقت یہ ضرور پیش نظر رکھنا چاہیے کہ کوئی ایسا واقعہ منتخب نہ کرے نہ کوئی ایسی بات کرے جس سے قارئین کے کسی مسلمہ مذہبی عقیدے کو ٹھیس لگے۔ ورنہ ناول نگار اپنے مقصد میں ناکام ہو جائے گا۔ اسے جاننا چاہیے کہ اس کے قارئین میں صرف ایک عقیدے یا مذہب کے لوگ شامل نہیں ہیں۔ وہ کسی بھی مسلمہ عقیدے کے بارے میں دلآزار باتیں تحریر کرنے سے گریز کرے اور خواہ مخواہ کوئی واقعہ ایسا تحریر نہ کرے جس سے کسی ایک فرقہ میں تو مذہبی جوش پیدا ہوا اور دوسرا فرقہ بیزاری محسوس کرے [13]۔"*

"تاريخي ناول نګارته د قيصې مطابق دجزياتوپه غوره کولوکښې دا ياد ساتل پکار دي چې يوه داسې واقعه انتخاب نه کړي نه يوه داسې خبره وکړي چې د لوستونکي مذهبي عقيدې ته نقصان ورسوي ځکه چې داسې کول ناول نګارپه خپل مقصد کښې ناکاموي هغه بايد په دې خبر وي چې د هغه په لوستونکوکښې يواځې د يوې عقيدې او مذهب خلق شامل نه دي هغه بايد د هرې عقيدې په اړه درد ورکوونکو خبرونه ډډه وکړي او داسې هېڅ واقعه را نه وړي چې په يوه فرقه کښې خو مذهبي جوش پېدا کړي او د بلې فرقې د بېزارۍ سبب وګرځي-"

د تاريخي ناول دپاره دا د ناول نګار ذمه واري جوړېږي چې پورته ذکر شوي ټول اړخونه په نظر کښې ونيسي ځکه چې پورتنۍ غوښتنې د تاريخي ناول اساسي غوښتنې دي چې د هم دغو غوښتنو په اساس يو ناول نګار کولې شي چې د تاريخ په ګردونو کښې له ورکو پاڼو څخه د خپل ضرورت مطالب راټول کړي، ترتيب ورکړي او په خپل ناول کښې ئې لوستونکي ته وړاندې کړي- دلته بايد د دې خبرې يادونه وکړو چې د موادو د راټولولو پر او د

ناول لیکلو پر وخت ناول نګار دې ته پاملرنه وکړي چې د کره تاریخونو نه مطلوب معلومات تر لاسه کړي ځکه چې دا ضروري نه دي چې هر تاریخي کتاب دې کره او حقیقي معلومات ولري او همدا ډول دا هم د ناول نګار ذمه واري جوړېږي چې واقعات په خپل اصلي حالت کښې وړاندې کړي او پکښې د تحریف نه ځان وساتي-د پورتني مطلب په اړه ډاکټر ممتاز منګلوري خپل خیالات داسې څرګندوي:

*"تاریخی ناول نگار پر یہ ایک بنیادی ذمہ داری ہے کہ وہ تاریخ کے مسلمہ حقائق اوران کی زمانی ترتیب میں ردوبدل کی جسارت نہ کرے۔[14]"*

"تاریخي ناول نګارته دا یوه بنیادي ذمه واري وربه غاړه وي چې په تاریخي حقیقتونو او د هغوي په زماني ترتیب کښې د رد وبدل نه ځان وساتي-"

د تاریخي ناول پورتني اساسي ضروریات د تاریخي ناول نګار دپاره په پام کښې ساتل ډېر زیات ضروري دي ځکه چې تاریخ پوره وسعت لري چې په لسګونو او سلګونو کلونو خور وي په دې وجه تاریخي ناول نګار ته د یوې خاصې دورې انتخابول لازمي امر ګرځي ځکه چې د دې نه بغېر خپل مطلوب مواد ، او خپل مقصدترلاسه کولوخورا ستونزمن تمامېږي په دې وجه د تاریخي ناول دپاره دا لازمي ګرځېدلي دي چې ناول نګار اول د یو تاریخي دور انتخاب وکړي، بیا د هغه دورد ژورې مطالعې په نتیجه کې ورته د موضوع انتخاب او د موادول تر لاسه کول اسانېږي-دتاریخي ناول د اساسي غوښتنو یا ضروریاتو د روښانه کولو نه وروسته غواړوچې دتاریخي ناول په فني جوړښت باندې خپل بحث وړاندې کړو-

د تاریخي ناول نګار ذمه واري:

لکه څنګه چې د هر مورخ او محقق دپاره ځینې اوصاف او ذمه واري ځانګړې شوي وي دغه ډول د تاریخي ناول نګار دپاره هم دا ضروري کېږي چې هغه نه یواځې ځینې صفات ولري بلکې ځینې ذمه واري هم په غاړه واخلي ځکه چې تاریخي ناول نګار په یو وخت د یو مورخ، د یو محقق او د یو ناول نګار کردار ادا کوي چې دغه درې واړه اړخونه د تاریخي ناول نګار د شخصیت احاطه کوي هر څومره چې تاریخي ناول ناول نګار ته منسوب شوې ذمه واري هغه په ښه ډول تر سره کړي هومره ئې ناول معیاري بڼه خپلوي- لکه څنګه چې وړاندې وئیل شوي دي چې تاریخي ناول یو داسې ناول وي چې تاریخ پکښې بیانېږي نو د تاریخي ناول د لیکلو دپاره د تاریخ پوهه لرل لازمي کېږي چې دغه پوهه د تاریخ د مطالعې نه تر لاسه

کېږي په دې وجه د تاریخي ناول نګار دپاره دا لازمي کېږي چې هغه په خپل ذات کښې د تاریخ او د تاریخ د مطالعې سره دلچسپي ولري، د تاریخ ژوره مطالعه وکړي د پېښو په اړه هر اړخیز معلومات تر لاسه کړي دغه ډول د مختلفو مستندو تاریخي لاسوندونو په رڼا کښې په دې باوري شي چې پېښې په خپل اصلي حالت کښې خوندي شوي دي- هر کله چې تاریخي ناول نګار د تاریخي دستاویزاتو په رڼا کښې د پېښو په اړه هر اړخیز معلومات تر لاسه کړي د دې نه وروسته دا د تاریخي ناول نګار ذمه واري جوړېږي چې پېښو ته د یو خاص ترتیب په ورکولو سره هغه په خپل اصلي حالت کښې د خپل ناول برخه وګرځوي ځکه چې تاریخي ناول نګار دا حق او صلاحیت نه لري چې پېښې تحریف کړي البته د مستندو لاسوندونو په رڼا کښې د تاریخ تصحیح کولے شي- دغه ډول د تاریخي ناول نګار دپاره دا هم لازمي وي چې هغه د هر ډول تبعیض نه پاک وي او په هر حال کښې د رښتیا او صداقت ملګرتیا وکړي یعنې تاریخي ناول نګار ته پکار دي چې تاریخي پېښې په خپل اصلي حالت کښې د خپل ناول برخه وګرځوي د تاریخي ناول نګار د دې ذمه وارۍ په اړه ډاکټر علي احمد فاطمي داسې لیکي:

*"تاریخ کے وہ واقعات جو اپنے آپ میں حقیقت اور صداقت رکھتے ہیں تخیل ان میں تقلب نہیں کر سکتا بلکہ اُس میں آرٹ پیدا کر کے زندگی تلاش کرتا ہے۔ تاریخی سچ کو کسی بھی صورت میں مجروح نہیں کر سکتا۔ جہاں سچ دھندلا پڑتا ہے وہاں تخیل کا رول بڑھ جاتا ہے[15]۔"*

"دتاریخ هغه پېښې چې په خپل ذات کښې حقیقت اوصداقت لري تخیل په هغوکښې تقلب کولي نه شي بلکې په هغوکښې د ارټ په پیدا کولو سره زندګي لټوي تاریخي رښتیا په هېڅ صورت کښې پایمالولي نه شي چېرته چې رښتیا تتېږي هلته دتخیل کردار ډېرېږي-"

د تاریخي ناول د لیکلو دپاره که یو خوا ناول نګار ته د تاریخي پېښو په اړه پوره مطالعه او مشاهده ضروري ده نو بل خوا ورته د جغرافیې د علم تر څنګ د هغه وخت د جغرافیو په اړه هم کره معلومات لرل لازمي دي ځکه چې جغرافیې بدلېږي او بیا په تېرو وختونو کښې خو جغرافیې بېخي ډېرې بدلې شوي دي په دې اساس هر کله چې یو ناول نګار د یو دور په پېښو تاریخي ناول لیکل غواړي د هغه دپاره دا لازمي کېږي چې د هغه دور د جغرافیې په اړه پوره معلومات تر لاسه کړي ځکه چې په موجوده دور کښې د موجودو جغرافیایي حدودو په بنیاد تاریخي ناول لوېې تېروتنې را مېنځ ته کوي چې په نتیجه کښې

ئې تاريخي ناول خپل افاقي مقام او مرتبه تر لاسه کولے نه شي په دې وجه د کوم دور په پښتو چې تاريخي ناول ليکل کېږي دا د ناول نګار ذمه واري جوړېږي چې د هغه دور د جغرافيې په اړه هم پوره معلومات تر لاسه کړي- دغه ډول عموماً په تاريخونو کښې د تاريخي جنګونو ذکر خو کېږي خو د محل وقوع په اړه ئې کافي معلومات نه وړاندې کېږي په دې وجه کله د تاريخي ناول نګار دا زمه واري هم جوړېږي چې هغه د هغې جغرافيې تر څنګ د هغو ځايونو نه هم ليدنه وکړي چېرته چې تاريخي واقعات پېښ شوي وي ځکه چې تاريخي ناول د تاريخي واقعاتو تصوير وړاندې کوي او بايد دغه تصوير په تاريخي صداقت ولاړ وي دغه ډول د تاريخ په اوږدو کښې د ځينو ځايونو او سيمو نومونه هم بدلېږي ناول نګار ته پکار دي چې د کوم دور په پښتو ناول ليکل کېږي د هغه دور په رڼا کښې دځايونو اصلي نومونه وکاروي ځکه چې دځايونو پخواني نومونه که يو خوا مونږ ته تاريخي معلومات راکوي نو بل خوا مونږ سره پر تاريخي پېښو باندې په پوهېدلو کښې مرسته کوي- داچې تاريخي ناول عام ناول نه وي اودتاريخ سره دتړون په وجه ديوارزښتمن مقام نه برخمن وي په دې وجه د تاريخي ناول ليکلوپروخت په هر قدم دا د تاريخي ناول نګار ذمه واري جوړېږي چې پوره احتياط وکړي- دغه ډول د ناول فن ته په کتو وئيلے شو چې د ناول فني جوړښت ته پاملرنه هم د تاريخي ناول نګار ذمه واري جوړېږي ځکه چې تاريخي ناول که هرڅودتاريخ سره ژور تړون او تعلق لري خو په بنيادي توګه تاريخي ناول هم ناول وي په دې وجه دا هم د تاريخي ناول نګار ذمه واري جوړېږي چې څه رنګ هغه د تاريخي موادو په برخه کښې ذمه وار ګرځي دغه ډول د ناول په فني برخه کښې هم د هغه دا ذمه واري جوړېږي چې د ناول فن ته هم پوره پاملرنه وکړي او په يوه داسې طريقه خپل ناول انجام ته ورسوي چې هم پکښې د ناول فني غوښتنې پوره شوي وي او هم پکښې تاريخي صداقتونه په خپل اصل شکل کښې مخې ته راوړل شوي وي- د تاريخي ناول نګار د ذمه واريو په اړه ډاکټر علي احمد فاطمي خپل خيالات داسې څرګندوي:

"تاریخی ناول نگار کو ایک ساتھ دو ذمہ داریاں نبھانی پڑتی ہیں۔ اول ناول نگار کی، دوئم مورخ کی۔ قدم قدم پر اُسے اس بات کا خیال رکھنا پڑتا ہے کہ ناول رقم کرتے وقت تاریخ نہ غائب ہونے پائے اور تاریخ کی شدت ناول کے فن پر اثر انداز نہ ہو سکے۔ اس طرح تاریخی ناول نگار کی ذمہ داری بیحد باریک اور نازک ہو جاتی ہے۔ ایک طرف تاریخ کی صداقتوں کا خیال دوسری جانب فن ناول کی جملہ نزاکتوں کا لحاظ۔ جو ناول نگار ان دونوں ذمہ داریوں میں سے ایک کو بھی نہیں نبھا پاتے وہ نہ تو اچھے

مورخ ہو پاتے ہیں اور نہ ہی اچھے ناول نگار کیونکہ دونوں ذمہ داریوں کو اچھے طرح سے نبھانے والا ہی تاریخی ناول نگار کہلائے گا اور یہ کام اتنا آسان نہیں[16]۔"

"تاریخي ناول نګارته په یووخت دوه ذمه واری ورپه غاړه وي لومړی د ناول نګار او دوهمه د مورخ په هرقدم هغه ته ددې خیال ساتل لازمي وي چې دناول د لیکلوپه وخت تاریخ پایمال نه شي اودتاریخ شدت دناول په فن اثرانداز نه شي په دې توګه د تاریخي ناول نګار ذمه واري باریکه اونازکه کېږي یوخوادتاریخي صداقتونوخیال ساتل اوبل خوادناول د فن د ټولو نزاکتونولحاظ ساتل کوم ناول نګارچې په دې دواړو ذمه واریوکښې یوه هم ترسر نه کړي نو نه هغه ښه مورخ پاتي کېږي اونه ښه ناول نګارځکه چې ددې دواړو ذمه واریو سرته رسونکي ته تاریخي ناول نګار وئیل کېږي اوداکاردومره اسان نه دي۔"

د تاریخي ناول نګاردپورته ذکرشویو ذمه واریو نه دا په واضح ډول څرګند ېږي چې تاریخي ناول عام ناول نه وي ځکه چې تاریخي ناول سرحدونه د تاریخ، تحقیق او د ناول فن درې واړو سره لګېدلي وي په دې وجه دا د تاریخي ناول نګار ذمه واري جوړېږي چې د تاریخ په برخه کښې کره او مستند معلومات د خپل ناول برخه وګرځوي او همدا ډول د تحقیق په مرسته د د هغه تاریخي دور په کوم چې ناول لیکل کېږي هر اړخیز معلومات تر لاسه کړي چې دغه معلومات یواځې دتاریخي کتابونو څخه نه تر لاسه کېږي بلکې د دې دپاره د مختلفو اثار قدیمه ترڅنګ د جغرافیایي حدودو د معلومولو دپاره پخوانی نقشې، او د هغو ځایونو نه لیدنه هم ضروري کېږي۔ د مستندو معلوماتو تر لاسه کول د تاریخي ناول نګار ذمه واري وي ځکه چې دا ضروري نه ده چې ټول تاریخونه دې معتبر وي تاریخي ناول نګار ته پکار دي چې د خپل ناول دپاره معتبر تاریخونو بنیاد وګرځوي تر څو اولس ته د تاریخي ناول په شکل کښې مستند معلومات وړاندې کړي۔ د تاریخي ناول نګار د دې ذمه واری په اړه ډاکټر ممتاز منګلوري لیکي:

"تاریخی ناول کے واقعات کے سلسلے میں ناول نگار پر گوناگوں ذمے داریاں عائد ہوتی ہیں۔ اسے بڑی سوجھ بوجھ کے بعد یہ فیصلہ کرنا پڑتا ہے کہ تاریخی ناول کے سلسلے میں کسی مورخ پر کتنا اعتماد کرے کیونکہ تواریخ خود بھی بعض اوقات تضاد کی حامل ہوتی ہیں اور کبھی کبھی یوں بھی ہوتا ہے کہ بعض ضعیف او بے بنیاد روایات بھی تاریخی صداقتوں کا درجہ حاصل کر لیتی ہے۔

*ایسی میں تاریخی ناول نگاران کے تجربے کی کوشش کرتے ہوئے درایت کے اصول کو اپنالے تو اس کے غیر مقبول ہونے کا خدشہ پورے طور پر موجود ہوتا ہے[17]۔"*

"دتاریخي ناول د واقعاتو په برخه کښې دناول لیکونکي دپاره بېلابېلې ذمه وارۍ د هغ په ذمه کېږي هغه ته دډېر غور اوفکرنه وروسته دافېصله کول وي چې د تاریخي ناول په سلسله کښې په کوم مورخ څومره اعتماد وکړي ځکه چې تاریخونه خپله هم کله کله تضاد لري او کله کله داسې هم وي چې ځینې ضعیف، کمزوري او بې بنیاده روایتونوهم د تاریخي صداقتونو درجه خپله کړې وي په دغسې حالاتوکښې که تاریخي ناول نګار دخپلې تجربې په رڼاکښې د درایت اصول خپل کړي نو د هغه د غېر مقبولیت امکان په بشپړډول موجود کېدې شي۔"

د تاریخي ناول نګار یوه بنیادي ذمه واري دا هم جوړېږي چې د ناول د فني غوښتنو په رڼا کښې تاریخي واقعات مخې ته راوړي۔ یعنې د ناول د تخلیق کولو پر وخت ناول نګار ته پکار دي چې د تاریخي صداقتونو تر څنګ د ناول فن ته هم پوره پاملرنه وکړي ځکه چې تاریخي ناول په بنیادي توګه ناول وي او په هم دې وجه د تاریخي ناول دپاره د ناول فن هم هومره ضروري دے څومره چې د عام ناول دپاره ضروري او لازمي ګڼلے شي۔ دغه ډول په تاریخي ناول کښې چې څومره ارزښت دناول فن ته حاصل دے هم دومره ارزښت پکښې تاریخي صداقتونه هم لري یعنې دناول واقعات بایددخپل تاریخي زماني ترتیب له مخې په ناول کښې وړاندې شي چې داهم دتاریخي ناول نګاردبنیادي ذمه واریونه شمېرل کېږي۔ په تاریخي ناول کې د تاریخي صداقتونو ته د پاملرنې په برخه د تاریخي ناول نګار د ذمه وارۍ په لړ کښې ډاکټر ممتاز منګلوري لیکي:

*"تاریخی ناول نگار پر یہ ایک بنیادی ذمہ داری ہے کہ وہ تاریخ کے مسلمہ حقائق اوران کی زمانی ترتیب میں ردوبدل کی جسارت نہ کرے[18]۔"*

"دتاریخي ناول نګاریوه بنیادي ذمه واري دا هم ده چې هغه د تاریخ په اټل حقیقتونواو د هغوي په زماني ترتیب کښې د ردوبدل کولوته زړۀ ښه نه کړي۔"

دتاریخي ناول د غوښتنو او د تاریخي ناول نګار د ذمه واریو په اړه د راوړل شوي پورتني بحث نه دا په ډاګه کېږي چې تاریخي ناول خپلې غوښتنې لري چې په دغو غوښتنو کښې د تاریخ سره مینه او علاقه لرل،د تاریخ مطالعه او مشاهده کول،د تاریخي دور او

زمـانې انتخـاب،د موضـوع انتخـاب او د مـوادو راټولـول او ترتيبـول شـامل دي دغـه ډول د تاريخي ناول د ليکلو په وخت چې کومې کړنې په نظر کښې نيـول د تـاريخي نـاول نګـار ذمـه واري ګرځي پـه هغـو کښې معتبرو تـاريخونو تـه لاس رسے پېـدا کـول، پېښـې پـه خپـل اصـلي تاريخي او زماني ترتيب سره د ناول برخه ګرځول، د پېښو د کره والي په څېړنه او تحقيـق کـول او په اړه ئې بشپړ باور ترلاسه کول، د تاريخي پېښو په بـدل شـکل کښـې لـه وړانـدې کـولـو ډډه کول او په ټوله کښې داسې هېڅ پېښه،واقعه، جمله او مکالمـه د نـاول برخـه نـه ګرځـول شـامل دي چې يـا د تـاريخ سـره ټکرپېـدا کـوي او يادیوکردارد تشـخص اودچادعقيـدوي مقدسـاتو د پائمالولو معنا او مفهوم پېدا کوي دغه ډول ددې مقالې د نتيجې په توګه مونږ وئيلے شـو چې تاريخي ناول خپل ټاکلي اصول او معيار لري چې ددغه اصـولو او معيـار پـه نظر کښـې نيـولـو سره يو تاريخي ناول پنځول کېږي او هر کله چې په يوتاريخي ناول کښې ناول نګار خپلې ذمـه وارۍ او د تاريخي ناول نګار غوښتنې عملي کړي نو په ټوله معنا تاريخي نـاول تخليـق کېـږي چې نـاول هـم وي او تحقيـق او تـاريخ هـم وي يعنـې تـاريخي نـاول درې قـوي او بنيـادي اړخونـه لري چې يو ئې د ناول فن، بل ئې تحقيق او دريم ئې تاريخ وړاندې کوي۔

# References:

1: Rasheed Ahmad Goreeja, Doctor, Urdu main Tareekhi Novel, Ablaagh, Lahore, 1994, P: 67.
2: Seddiqi,Azimushaan,Urdu Novel Aghaz wa Irtiqa,Educational Publishing House, Dehli,2008,P:49,50.
3: Sohail Ahmad Khan,Doctor, aur, Muhammad Saleem ur Rahman, Muntakhib Adabi Istilahat, Shuba Urdu GC University Lahore,2005,P:106.
4: Sheppard, Alferd Tresidder, The Art and Practice of Historical Novel, H. Toulmin London: 1930, P:147.
5: Rasheed Ahmad Goreeja, Doctor, Urdu main Tareekhi Novel, Ablaagh, Lahore, 1994,P:64.
6: Abid,P:54.
7: Mumtaz Munglauri,Doctor,Sharar ki Tareekhi Novel, Maktabah Khyaban-e- adab, Lahore,1978,P:33,34.
8: Rasheed Ahmad Goreeja,Doctor, Urdu main Tareekhi Novel,Ablaagh, Lahore, 1994,P:55.
9: Hussaini Ali Abass, Urdu Novel ki Tareekh aur Tanqeed, Educational Book House, Ali garh,1987,P:53.
10: Sheppard, Alferd Tresidder, the Art and Practice of Historical Novel, H. Toulmin London: 1930, P: 143-144.
11: Rasheed Ahmad Goreeja, Doctor, Urdu main Tareekhi Novel, Ablaagh, Lahore, 1994,P:65.
12: Mumtaz Munglauri,Doctor,Sharar ki Tareekhi Novel, Maktabah Khyaban-e-adab, Lahore,1978,P:35.
13: Rasheed Ahmad Goreeja, Doctor, Urdu main Tareekhi Novel, Ablaagh, Lahore, 1994,P:67.
14: Mumtaz Munglauri,Doctor,Sharar ki Tareekhi Novel, Maktabah Khyaban-e-adab, Lahore,1978,P:37.
15: Ali Ahmad Fatimi, Tareekhi Novel Fun aur Osool, Tahzeeb Now Publications, Check Allabad, 1980, P: 53, 54.
16: Abid, P: 63.
17: Mumtaz Munglauri,Doctor,Sharar ki Tareekhi Novel, Maktabah Khyaban-e-adab, Lahore,1978,P:36.
18: Abid,P:37.